# د افغانستان اسلامی امارت

# د لوړو زده کړو وزارت

# بُست پوهنتون

# د پلان او پالیسی آمریت

## د بُست پوهنتون د (1402) هـ ش کال د تطبیقي پلان د تطبیق

## د څلورمي ربعي راپور

| | |
|---|---|
| د پوهنتون علمي شورا  ته د استولو نیټه | 1403/02/27هـ ش --1445/10/09 هـ ق کال |
| د لیک ګڼه | 39/27 |

## د مطالبو فهرست

عنوان...... صفحه


1. د پیل خبري:......2
2. د راپور تفصیل:......3
3. د استادانو د ماسټرۍ پروګرام......3
4. د علمي څېړنو پراخول......4
5. مرستندویه کورسونه......5
6. د لابراتوارونو او کمپیوټر لیبونو پراختیا......6
7. کتابتون معیاري کول او پراخول......7
8. د پارکینګ پراختیا او د مسجد، د محصلینو او استادانو لپاره د لیلیې/استوګنځی او عونډو د هال /تالارغول......8
9. د پوهنتون لپاره د نوی موقیعت انتخاب......9
10. د نویو څانګو (برنامو) رامنځته کول......9
11. د نویو پوهنځیو او ډیپارټمنټو ایجاد......10
12. د کدري روغتون پراختیا......11
13. د تشویقي او تفریحي پروګرامونو مخته وړل......12
14. په ولایتي کچه د پوهنې له نظام سره همکاري......13
15. د مطبوعاتي / میډیایې فعالتونو پروګرام......14
16. د تخفیفونو پروګرام......15
17. عمده لاسته راوړني:......17
18. ستونزې او حل لارې:......17
19. نتیجه ګیري:......17
20. د راپور تائیدي:......18

**د پیل خبري:**

بُست پوهنتون د خپل لیرلید لپاره داسي رسالت غوره کړی دی،چي د عصر تولي اړتیاوي يې په ملي او سیمه ایزه کچه په نظر کښي نیولي دي. بُست پوهنتون نه یوازي دا،چي په علمي او مسلکي برخه کښي يې د ټولني خدمت ته لبیک ویلي دی بلکي ټول هغه مسایل،چي ټولنه ورسره لاس او ګریوان وي ،د هغوي د رفعي او بهبود لپاره يې متي را نغښتي دي.د مثال په توګه ویلای سو ،چي بُست پوهنتون د یو تعهد او ژمني له مخي په هر وخت او مکان کښي د خپلو هېوادوالو لپاره يې د یو کیفي او بنیادي لوړو زده کړو تر څنګ په ټولنه کښي د ټولنیز مسؤلیت د تر سره کولو لپاره هم په بېلابېلو برخو کښي خپل رسالت تر سره کړی دي هغه دا ،چي بُست پوهنتون د نشه یي موادو د مخنیو ي ،د فساد په وړاندي د مبارزې، د هوا د ککړتیا او د معیوبینو او معلولینو سره د همکاری په موخه په مختلفو برخو کښي د ټولني د وګړو سره څنګ پر څنګ خپله همکاري نه ده دریغولې او تل يې هڅه کړې ده،چي له هري ممکنه لاري څخه په استفادې سره و خپلو ټولو هېوادوالو ته د عامه او زده کړه ایزو برنامو او پروګرامونو په برخه کښي زمینه مساعده کړي تر څو وکولای سي ټولنه د هر نوعه تیارو او تورتمو نو څخه اګاه او یوې سالمي او پر ځان باندي متکي ټولني ته را وبلي. بُست پوهنتون د کلنی پلان له مخي هغه فعالیتونه چي يې د 1402هـ ش کال په څلورمه ربعهکښی پلان کړی وه ځیني فعالیتونه يې تر سره سوي او بعضي فعالیتونه يې د اقتصادي ستونزو او کمزوري بودجې له امله نه دي تر سره کړي.

بُست پوهنتون د خپل هدف د تر لاسه کولو لپاره د پنځه کلن ستراتیژیک پلان له مخي د 1402 هـ ش کال د کلنی تطبیقي پلان او د لوړو زده کړو د وزارت د اهدافو په نظر کښي نیولو سره (14) فعالیتونه په خپل کلني تطبیقي پلان کښي ځای پرځای کړي وه ،چي د هغه له جملې څخه (6) فعالیتونه يې تر سره سوي وه او پاته (8) فعالیتونه پیل سوي وه اما د ځینو اقتصادي ستونزو له امله و ځنډیدل.

د بُست پوهنتون د 1402هـ ش کال د پلان سویو فعالیتونو د څلورمي ربعي د فیصدي اوسط د ټاکل سوي هدف د اندازې مطابق (42%).سلنه دی.

## 1. د راپور تفصیل:

| ګڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کې د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلني پرمختګ د ترسره سوي فعالیت فیصدي | څلورمه ربعه | | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | په ربعه کښې د تطبیق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | په ربعه کښي د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدولو دلایل | |
| 1 | د استادانو د ظرفیت لوړوال | د استادانو د ماسټري پروګرام | علمي معاونیت او د استادانو چارو آمریت | د استادانو تعداد | 18 | 4 | 0 | 0% | 0% | | د بودجې د کمښت له امله پوهنتون په دې فعالیت کښې له ستونزو سره مخې دی | |

| ګڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کي د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کي د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کي د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلي پرمختګ د ترسره سوي فعالیت فیصدي | څلورمه ربعه | | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | په ربعه کښې د تطبیق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | په ربعه کښي د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدو لو دلایل | |
| 2 | د علمي څېړونو دودول او معیاري کول | د علمي څېړنو پراخول | د علمي څېړنو آمریت | د څېړنو تعداد | 40 | 10 | 3 | 100% | 7,5% | 1) د بُست پوهنتون د طب پوهنځی استاد عبدالرحمن ارین نشر سوی علمی مقاله د A Qualitative Study on Urinary Tract Infections Among Adult Patients in Bost University Hospital, Helmand تر سرلیک لاندی چی مخکی په Clinical Medicine and Health Research Journalنړیوال ژورنال کی نشر سوی وه د سکتوری ادارو سره د استفادی په موخه شریکه سول.<br>2) د بُست پوهنتون د اقتصاد پوهنځی استاد ارسلان وطندار نشر سوی علمی مقاله Trade Agreement A Study on Afghanistan Pakistan Transit تر سرلیک لاندی چی مخکی په Journal of Management and Service Science نړیوال ژورنال کی نشر سوی وه د سکتوری ادارو سره د استفادی په موخه شریکه سول.<br>3) د اقتصاد پوهنځی مربوط یوه علمی مقالی د پوهندوی دوکتور علی احمد د The Study of Calcium Chloride (CaCl2) and Ultraviolet (UV-C) Effect on Shelf-life of Fresh Afghan Safed Kohi a variety of Figs (Ficus carica L.) تر سرلیک لاندی چمتو سول او جلال اباد پوهنتون معتبر نړیوال ژورنال ته د نشر په موخه ولیږل سول. | دا چي شپږ فعالیتونه نه دي تر سره سوي عمده علت یې کمه بودجه او د دریم پړاو څان ارزوني د راپور پر چمتو والي باندي تمرکز دی. | |

| ګڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کې د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلي پرمختګ د تر سره سوي فعالیت فیصدي | څلورمه ربعه | | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | په ربعه کښي د تطبیق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وراندي کول | په ربعه کښي د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدو لو دلایل | |
| 3 | د مهارتونو او مسلکي برخو وده | مرستندویه کورسونه | اداري معاونیت او پوهنځۍ | د کورسونو تعداد | 4 | 1 | 1 | 100% | 25% | 1. کمپیوټر د یوه کلن کورس نوم لیکنه بشپړه او کورس عملاً پیل کړل سو<br>2. د ایګزیټ ازمویني لپاره د چمتووالي یو میاشتنی وړیا کورس د علمي مرستیال په وینا افتتاح سو. کورس (۸۲) ګډونوال لري.<br>3.-د څېړني میتودولوژی (۳) ورځني کورس دایر او د پوهنځیو (۱۰) تنو استادانو او (۱۲) تنو محصلینو چي ټوله (۲۲) تنه کیږي، ګډون کړی وو. | | |

| کڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کې د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلي پرمختګ د تر سره سوي فعالیت فیصدي | څلورمه ربعه: په ربعه کښې د تطبیق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | څلورمه ربعه: په ربعه کښې د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدو لو دلایل | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 | د علمي زده کړو د زمینې پراخوالی | د لابراتوارونو او کمپیوټر لیبونو پراختیا | اداري معاونیت | د لابراتوارونو د پراختیا کچه | 20 | 5 | 2 | 100% | 10% | 1. د طب پوهنځی د 1402 هـ.ل کال د خزاني سمستر چي د 1402/11/18 نېټه پیل سو د پیل سره سم د طب پوهنځی د برحال محصلین لپاره د عملی کار کولو زمینه برابره شوی ده، لکه څرنګه چې په نوموړی سمستر د کلینیک دوری شپږ ټولګی په اونی کی یوه ورځ د عملی کار په موخه د طب پوهنځي په تدریسی روغتون کی حاضریدل او ددی ټولګیو له جملی څخه یو دولسم سمستر، یو یوولسم سمستر، یو لسم سمستر ، یو نهم سمستر، دوه اووم سمستر محصلین شامل وه.<br>2. د ۱۴۰۲ هـ.ل کال په جریان کی د کیمیا لابراتوار کی پراختیا راوستل : د څلورمي ربعي په جریان کي د کیمیا د لابراتوار دپاره دموادو د خریداری دپاره د لابراتوار مسئول ته د کمبود مواد د لیست ترتیبولو او پوهنځی د لیږلو سپارښتنه سوه چي ډېر ژر به کمبود موادو لیست ترتیب او خریداری سي. | | د ا، چې پوهنتون د ۱۴۰۲ هـ ش کال په په څلورمه ربعه کښې د لابراتوارونو د پراختیا په برخه کښې کوم فعالیت نه دی تر سره کړی عمده دلیل یې د محصلینو په جلب او جذب پوري تړلې بولو یعني د اوس لپاره همدا د محصلینو تناسب د لابراتوارونو پر ظرفیت او مناسبوالی باندي بسنه کوي. |

| ګڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کې د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلي پرمختګ د ترسره سوي فعالیت فیصدي | څلورمه ربعه | | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | په ربعه کښي د تطبیق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | په ربعه کښي د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدو لو دلایل | |
| 5 | د مطالعي د ساحي پراخول | کتابتون معیاري کول او پراخول | د کتابتون مدیریت | د کتابونو تعداد | 254 | 63 | 63 | 100% | 25% | 1- د کتابتون څخه د مسلکي ګټې اخیستني، د مطالعی ارزښت او مطالعي ته د هڅوني د پوهاوي سیمینار د کتابتون د مدیر عبدالوارث صمدي لخوا د کمپیوټر سائینس، اقتصاد، حقوقو انجینري او ښووني او روزني پوهنځیو (۲۸۳) تنو او طب پوهنځی شاوخوا (۵۰۰) محصلینو او استادانو ته د مهالویش سره سم په (۵) ورځو کی دایر سوی وو علمي مرستیال ویناوي وکړی.<br>2- په ډیجیټل کتابتون کی د استادانو او محصلینو لپاره په منظم ډول انټرنیت فعاله دي.<br>3- د بریښنایی کتابتون د انکشاف لپاره د پوهنتون د ویډیو، ړغیزو پروګرامونو (Radio, Events) او راډیوي خپرونو لپاره د اپشن پر اضافه کولو او اپډیټ اونوي کولو پریکړه وسوه تر څو محصل معلوماتو ته په اسانی سره لاسرسي ولري<br>4- د E-Learning سیستم څخه ارزیابی تر سره او راپور چمتو دی چي فرعی کمیټوته په رسمي توګه ولیږل سي<br>5- د پښتو څانګي ۲۵ جلده کتابونه خریداري سوي<br>6- د هلمند دولتي پوهنتون ته ۱۳۰ عنوانه ۲۰۰ جلده کتابونه ( ۱۵۰) د کتابتون او (۵۰ ) جلده خریداری تهیه او په رسمی ډول اهدا سویدي 7- د الکترونیکي کتابتون تیز انټرنیت فعاله او ټولو پوهنځیو او اړوند ادارو ته رسمی خبر ورکول سویدی<br>7- د الکترونیکي کتابتون ساحه پراخه او د پخوانیو (۸) کمپیوټرونو پرځای د مطالعی او څیړنو لپاره (۱۶) پایي مک کمپیوټرونه چي د لوړ کیفیت لرونکي دي نصب او فعاله سول<br>8- په کتابتون کي د محصلینو او مراجعینو د بستو د اینښودلو لپاره الماری جوړه او ګټه څینی اخیستل کیږي.<br>9- د ګروپی مطالعی خونو ته د ثبت او راجستر کتابونه چمتو سوي دي<br>10- د ګروپی مطالعی خونو او د الکترونیکي کتابتون څخه د ګټي اخیستني تګلاري جوړي سویدي<br>11- د کتابتون څخه « د مسلکي ګټی اخیستني، د مطالعی ارزښت او مطالعي ته د هڅوني» تر عنوان لاندي د پوهاوي سیمینار د کمپیوټر سائینس، اقتصاد، حقوقو انجینري او ښووني او روزني پوهنځیو (۲۸۳) محصلینو او استادانو ته د کتابتون د مدیر لخوا د مهاویش سره سم د ۱۴۰۲/۱۱/۲۴-۳۰ نیټو او د طب پوهنځی شاوخوا ( ۵۰۰ ) تنو محصلینو او استادانو ته دوي ورځي پر ۶ او ۱۴۰۲/۱۲/۸ نیټو وړاندي سو | | څنګه چې لازمه وه بُست پوهنتون خپل کتابتون په هماغه کچه په مناسب او معیاري توګه ترتیب کړی دی. |

| کڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کې د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلي پرمختګ د تر سره سوي فعالیت فیصدي | څلورمه ربعه | | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | په ربعه کښي د تطبیق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | په ربعه کښي د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدو لو دلایل | |
| 7 | د خدماتو پراخول او د پوښښ ساحې ته پراختیا ورکول | د پوهنتون لپاره د نوی موقیعت انتخاب | د پوهنتون ریاست | د امکاناتو په کچه | 20 | 5 | 0 | 0% | 0% | | بُست پوهنتون په خپل پنځه کلن ستراتیژیک پلان کښي د پوهنتون لپاره د نوی موقیعت انتخاب هم درلود تر څو وکولای سي په ملي او سیمه ایزه کچه د علم او هنر د زده کړي ډګر لا پراخه او غښتلي کړي اما د هېواد د سیاسي او اقتصادي تحولاتو په بدلون سره د موقعیت تغیر ته اړتیا نه لېدل کېږي ،کومه ژمنه ،جي د پوهنتون د پراختیا په برخه کښي له محترمو هېواد والو سره سوې وه پوهنتون څکه پاتي راغي،چي د لوړ زده کړو علاقه مندان په مختلفو عنوانونو باندي د لوړو زده کړو له دې ستر نعمت څخه بې برخي سول او پوهنتون پر اوسني موقعیت باندي اکتفا وکړل،څکه،چي د اوس لپاره همدا ځای د محصلینو لپاره کاپی او مناسب دی. | |

| ګڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کې د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلني پرمختګ د ترسره سوي فعالیت فیصدي | څلورمه ربعه | | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | په ربعه کښي د تطبیق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | په ربعه کښي د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدو لو دلایل | |
| 6 | د زېر بناوو رغول او د خدماتو پراخول | د پارکینګ پراختیا او د مسجد، د محصلینو او استادانو لپاره د لیلي/استوګنځی او عونډو د هال /تالار رغول | اداري معاونیت | د امکاناتو په کچه | 20 | 5 | 0 | 0% | 0% | | بُست پوهنتون د خپل ستراتیژیک پلان د ځینو فعالیتونو د نه تر سره کېدلو په وجه ځکه پاتي راغلی دی، چي په دې وروستیو دوو کلونو کښي د کورني سیاسي او اقتصادي تحولاتو تر اغیز لاندي راغی، چي په دې سره زموږ ځیني هېوادوال د اقتصادي او پولی ستونزو سره مخ سول او یو تعداد مو په بېلا بېلو دلیلونو باندي د لوړو زده کړو له ډګر څخه ولاړل، چي همدا سبب د دې بسنه کوي ،چي نور پوهنتون د اوس لپاره په ځینو پراختیایي برخو کښي کیفایت کوي. | |

| ګڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کې د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلي پرمختګ د تر سره سوي فعالیت فیصدي | څلورمه ربعه | | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | په ربعه کښي د تطبیق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | په ربعه کښي د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدو لو دلایل | |
| ۸ | د خدماتو پراخول او د پوهنیز ساحې ته پراختیا ورکول | د نویو څانګو (برنامو) رامنځته کول | د پوهنتون ریاست | د څانګو تعداد | 20 | 5 | 0 | 0% | 0% | | بُست پوهنتون د خپل ستراتیژیک پلان له مخي غوښتل چي د ټولني ټولي سنجول سوي اړتیاوي او ضرورتونه په پام کښي ونیسي او له هغوي سره سم په ټولنه کښي مختلفي او بېلا بېلي علمي، مسلکي او هنري برنامې په کور دننه کښي منظور کړي اما د اقتصادي او ټیټ مالي وضعیت له امله و نه توانېدی چي د ټولني دا تقاضا پوره کړي. | |

| کڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کې د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلي پرمختګ د ترسره سوي فعالیت فیصدي | څلورمه ربعه | | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | په ربعه کښې د تطبیق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | په ربعه کښې د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدو لو دلایل | |
| 6 | د مسلکي زده کړو د ساحې پراخول | د نویو پوهنځیو او ډیپارټمنټو ایجاد | د پوهنتون رياست ،پوهنځی او د استادانو جارو آمریت | د پوهنځیو تعداد | 20 | 5 | 0 | 0% | 0% | | بُست پوهنتون د موقعیت تر څنګ دا هم منلي وه ،چي د خپلو هبوادوالو لپاره به د لوړو زده کړو ډګر تود ساتي او د علاقه مندانو لپاره به هر نوعه اختیاري او انتخابي پوهنځې رامنځته کوي او دا یې هم د خپل ستراتیژیک پلان له مخي غوښتل ،چي د ټولني ټولي سنجول سوي اړتیاوي او ضرورتونه به په پام کښې ونیسي او له هغوي سره سم به په ټولنه کښې مختلفي او بېلا بېلي علمي، مسلکي او هنري زده کړه ایزي پوهنځې او مختلفي برنامې په کور دننه کښې منظور کړي اما د اقتصادي او ټیټ مالي وضعیت له امله و نه توانېدی چي د ټولني دا غوښتنه پوره کړي. | |

| ګڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کې د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلي پرمختګ د ترسره سوي فعالیت فیصدي | څلورمه ربعه: په ربعه کښي د تطبیق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | څلورمه ربعه: په ربعه کښي د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدو لو دلایل | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 10 | د طب پوهنځی د معیارونو تطبیق | د کدري روغتون پراختیا | د کادري روغتون ریاست | د پراختیا کچه | 20 | 5 | 0 | 0% | 0% | | د کدري روغتون د پراختیا په برخه کښی باید وویل سي چي روغتون د فعلاً لپاره د محصلینو په تناسب کیفي او بنیادي تجهیزات لري او د وخت د اړتیاوو سره سم ټول امکانات یې په واک کښي ورکړي دي نور پراختیا ته اړتیا نه لري. | |

| کڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کې د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلي پرمختګ د ترسره سوي فعالیت فیصدي | څلورمه ربعه | | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | په ربعه کښې د تطبيق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | په ربعه کښې د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدو لو دلایل | |
| 11 | د کمیت زیاتول او د لوړو زده کړو لپاره ساحه پراخول | د تشویقي او تفریحي پروګرامونو مخته وړل | د محصلینو چارو معاونیت | د پروګرامونو تعداد | 12 | 3 | 1 | 100% | 8,33% | 1. د انجینري، طب، اقتصاد، کمپیوټر سائینس، او حقوقو پوهنځیو د بهاري سمستر د ممتازو ۵ غوره استادانو او ۶ غوره محصلینو ته د ستاینې پروګرام | | |

| ګڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کې د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلي پرمختګ د تر سره سوي فعالیت فیصدي | څلورمه ربعه | | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | په ربعه کښې د تطبیق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | په ربعه کښې د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدو لو دلایل | |
| 12 | د معارف وده او د ټولنیز مسؤلیت ادا کول | په ولایتي کچه د پوهنې له نظام سره همکاري | د محصلینو چارو معاونیت | د همکاریو تعداد | 4 | 1 | 0 | 0% | 0% | | بُست پوهنتون د اقتصادي ضعف او د بودجې د کمښت له امله په دي ونه توانېدی، چي په څلورمه ربعه کښې په ولایتي کچه د پوهني له نظام سره خپله همکاري وکړي. | |

| ګڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کې د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلي پرمختګ د تر سره سوي فعالیت فیصدي | خلورمه ربعه | | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | په ربعه کښي د تطبیق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | په ربعه کښي د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدو لو دلایل | |
| 13 | د محصلینو جذب او د کمیت زیاتول | د مطبوعاتي / میدیایي فعالتونو پروګرام | د محصلینو چارو معاونیت، څېړنیزو او فرهنګي چارو مرکز | د پروګرامونو تعداد | 12 | 3 | 1 | 100% | 8,33% | 1- د بُست پوهنتون په استازیتوب د افغانستان د ملي راډیو ټلویزیون سره د افغانستان د تاریخي ویاړونو، ملي اتلانو او ارزښتونو اړوند یوه مناظره پر مخ ورل. | | |

| کڼه | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | د اجرا مسؤل | شاخص | د هدف کلي اندازه | په ربعه کې د ټاکل سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت اندازه | په ربعه کې د ترسره سوي فعالیت د پرمختګ فیصدي | د کلي پرمختګ د تر سره سوي فعالیت فیصدي | خلورمه ربعه | | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | په ربعه کښي د تطبیق سوي فعالیت د تفصیلي معلوماتو وراندي کول | په ربعه کښي د پلان مطابق د فعالیت د تکمیل او یا نه ترسره کېدو لو دلایل | |
| 14 | له ارمنو سره مرسته او د جذب زیاتوال | د تخفیفونو پروګرام | د پوهنتون ریاست | د پروګرامونو تعداد | 2 | 1 | 0 | 0% | 0% | | د محصلینو د تخفیف اروند پروګرام د نورو پروګرامونو تر څکه تر دي دمه په لاره نه دی اچول سوی،چي پوهنتون په ځینو برخو کښي انکشافي او تشویقي بودجه د بودجي د کمښت له امله نه ده ځانګړي کړي. | دافعالیت په ربعه کښي نه بلکي د هر سمسټر په شروع کښي پیل کیږي. |

عمده لاسته راوړني:

| ګڼه | د( 1402) هـ ق کال د څلورمي ربعې عمده لاسته راوړني |
|---|---|
| 1 | د انجینري، طب، اقتصاد، کمپیوټر سائینس، او حقوقو پوهنځیو د بهاري سمستر د ممتازو ۵ غوره استادانو او ۶ غوره محصلینو ته د ستاینې پروګرام |
| 2 | د کتابتون څخه « د مسلکي ګټې اخیستني، د مطالعې ارزښت او مطالعې ته د هڅوني» تر عنوان لاندې د پوهاوي سیمینار د کمپیوټر سائینس، اقتصاد، حقوقو انجینري او ښووني او روزني پوهنځیو (۲۸۳) محصلینو او استادانو ته د کتابتون د مدیر لخوا د مهاویش سره سم د ۳۰-۱۴۰۲/۱۱/۲۴ نیټو او د طب پوهنځی شاوخوا ( ۵۰۰ ) تنو محصلینو او استادانو ته دوي ورځې پر ۶ او ۱۴۰۲/۱۲/۸ نیټو وړاندي سو |
| 3 | د الکترونیکي کتابتون ساحه پراخه او د پخوانیو (۸) کمپیوټرونو پرځای د مطالعې او څیړنو لپاره (۱۶) پایې مک کمپیوټرونه چې د لوړ کیفیت لرونکي دي نصب او فعاله سول |
| 4 | کمپیوټر د یوه کلن کورس نوم لیکنه بشپړه او کورس عملاً پیل کړل سو؛+ د ایکزیټ ازموینې لپاره د چمتووالي یو میاشتنۍ وړیا کورس د علمي مرستیال په وینا افتتاح سو. کورس (۸۲) ګډونوال لری؛ |
| 5 | ؛+ د څیړنې میتودولوژی (۳) ورځني کورس دایر او د پوهنځیو (۱۰) تنو استادانو او (۱۲) تنو محصلینو چې ټوله (۲۲) تنه کیږي، ګډون کړی وو؛+ |
| 6 | د څیړنیز مرکز امریت د بُست پوهنتون د اقتصاد، انجنیری، کمپیوټر ساینس، طب، ښوونه او روزنه او حقوق او سیاسی علوم پوهنځیو استادانو او محصلینو ته دری ورځنۍ کورس د څیړنی میتودولوژی تر عنوان لاندی دایر کړی، په دی کورس کې ۱۲ تنو محصلینو او ۱۰ تنو استادانو ګډون کړی وو. |

ستونزي او حل لاري :

| ګڼه | ستونزي | وړاندیز او حل لاري |
|---|---|---|
| 1 | د کاپي بودجي نه شتون | د راتلونکي ستراتیژیک پلان د جوړوني په موخه د یوعلمي او تخصصي کمېټې رامنځته کول په لاندي شرایطو باندي باید ،چي علمي او تحصیلي کچه یې د تجربې تر څنګ په نظر کښي ونیول سي. |

نتیجه ګیری:

په نتیجه کښي ویلای سو ،چي د 1402 هـ ش کال د کلني تطبیقي پلان ټول هغه فعالیتونه،چي په څلورمه ربعه کښې پلان سوي وه د هغوي له جملې څخه په سل سلنه کښي (42%) سلنه په نسبي توګه تر سره سوي او پاتي نور،چي (68%) سلنه کېږي،چي یا تر کار لاندي دي او یا هم د بودجې د نه شتون له امله پر ځای پاتې دي، چي و مو نسوه کولای پر خپل پلان سوي وخت یې تر سره کړو.

**د راپور د تائیدي برخه:**

د پوهنتون د تطبیقي پلان د څلورمي ربعي راپور د پوهنتون د ستراتیژیک پلان په کمېټه کښي په ( / / 1403) نېټه په ( ) گڼه غونډه کښي تر بحث لاندي ونیول سو او وروسته د پوهنتون علمي شوار ته په ( / / 1403) نېټي په ( ) گڼه غونډه کښې تائید او تصویب سول.

د پوهنتون دعلمي شورا د محترم رئیس لخوا:......................................................................